PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوې دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لیار ښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالی ځرګند دلایل دي. نو ځوک چې له تاسې ځخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او ځوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمېر دې له نورو ورځو ځخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (سورة البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:

پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که سخن دروغ و عمل به آن را ترک نکند، پس خداوند تعالی نیازمند آن نیست که خوردنی و آشامیدنی خود را ترک کند. (ریاض الصالحین)

شهادت ځلورم کال، ۱۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د زمری ۴ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رمضان المبارک ۲ مه د۲۰۱۲ م د جولای ۲۵ مه

د دیني عالم او د حزب اسلامي د دعوت او تنظیم د مشر مولوی صاحب سرفراز سره لنډه مرکه:

حزب اسلامي غواړي افغان ولس راویښ کړي چې د سولې او امنیت په راوستلو او د ملي وحدت په ټینګښت کې بنسټیز رول ولوبوي

* د افغانستان دښمنان باید په دې پوه شي چې افغانستان خپلواک، یو موټی اسلامي هېواد دی، نه یې ځوک ټوټه ټوټه کولې شي او نه یې ځوک اسلامي پیژندګلوي ته یې زیان رسولې شي.

* د حزب اسلامي ځوانانو د ځوانانو په هغه ملي کنفرانس کې چې له ټول هېواد ځخه د ټولو سیاسي او اجتماعي اړخونو نماینده ګان برخمن و خو د تشکیلاتو او تعیناتو په انتخاباتي مرحلې یې د حزب اسلامي رغنده رول خورا ځرګند او ښکاره کړ.

دریېم مخ

ننګرهار په دره نور ولسوالۍ کې د حزب اسلامي افغانستان غونډه

تېره اونۍ دننګرهار د دره نور ولسوالۍ اړوند د املی په قریه کې د حزب اسلامی افغانستان د سیمه ییز دفتر د ناظمیت له خوا یوه شانداره غونډه جوړه شوې وه، په غونډه کې د سیمې جهادي قوماندانانو، قومي سپین ږیرو، علماو، د معارف استاذانو او ځوانانو ګډون کړی و چې شمېر یې سوونو تنو ته رسیده.

یاده غونډه د قاري صاحب تجمل لخوا د قرآن عظیم الشأن مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه دغونډې پرانیستونکې وینا د دره نور ولسوالی ناظم مولوي صاحب سید احمد وکړه او د غونډې برخوالو ته یې دغونډې دجوړېدو په اړه رڼا واچوله، وروسې په ننګرهار کې د حزب اسلامي د ولایتي دفتر مشر استاد

عبد العلي وینا وکړه، استاد په خبرو کې وویل چې دحزب اسلامي تعلیمي حلقې په ټولو ولسوالیو کې فعاله دي او خپلو دعوتي کارونو ته دوام ورکوي، د دره نور د ولسونو نه مې غوښتنه دا ده چې دعوتي حلقات په ټولو قریو کې فعالې کړي، د خلکو زړونه خپل او فکرونه یې

پاتې ۴ مخ

جان الن:

په راتلونکو ۲ میاشتو کې به ۲۳ زره امریکایي پوځیان له افغانستانه ووځي

کابل، رسنی:

په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال جان الن پرون په یوه مرکه کې وویل چې د هغو ۲۳زره امریکایي پوځیانو، چې ټاکل شوې ده د روان میلادي کال تر پایه له افغانستانه ووځي، د وتلو پروګرام د لارې په نیمایي کې دی.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما په ۲۰۰۹ کال افغانستان ته ۳۲ زره اضافي عسکر ولېږل او د تېر کال په جون کې یې اعلان وکړ چې دا سرتېري به د ۲۰۱۲ کال د دوبي تر پایه له افغانستانه بېرته وباسي.

تېر کال څه باندې لس زره امریکایي عسکر ووتل او په پام کې ده چې ۲۳ زره نور یې په راتلونکي اګست او سپټمبر میاشتو کې ووځي....

پاتې ۴ مخ

ایران یو ځل بیا د افغانستان او امریکا له ستراتیژیکو همکاریو سره مخالفت وکړ

کابل، رسنی:

ایران یو ځل بیا د افغانستان او امریکا د ستراتیژیک تړون مخالفت وکړ، ویې ویل چې په افغانستان کې د لویو لارو، هوایي ډګرونو او الوتلارو جوړول له تروریزم سره د مبارزې هدف نه شي لرلی.

د ایران په بهرنیو چارو وزارت کې د افغانستان د کمېټې رییس محس پاک ایین ایرنا خبري اژانس ته وویل، نورو هېوادونو افغانستان ته د هغو اصولو له مخې عسکر لېږلي چې دوی پرې باور لري. دوی له ترهګرۍ سره د مبارزې او د بشري حقونو د ملاتړ لپاره افغانستان ته ځواکونه استولي خو امریکا په افغانستان کې لویې لارې، هوایي ډګرونه او الوتلارې (رنوې) جوړوي او د پوځي مرکزونو لپاره یې پرمختللي الیکترونیک وسایل وړي او دا له تروریزم سره د مبارزې شیوه نه ده.

ده همداراز وویل چې امریکایانو د روسیې او چین د کنټرولولو، پاکستان ته د ستونزو د

پاتې ۴ مخ

ویلیم کالدویل از ادامه تحقیقات در مورد فساد اداری جلوگیری کرده است

کابل، رسانه ها:

یک جنرال بلند پایه امریکایی در افغانستان، بنابر دلایل سیاسی از تحقیق و رسید گی از فساد اداری و سوی استفاده در یک شفاخانه در افغانستان جلو گیری نمود.

این مطلب را آژانس خبری رویترز گزارش داد.

دګروال متقاعد گیرالد گروزا (Gerald Garozza) که بحیث مشاور با نیروهای امریکایی در افغانستان خدمت می نمود، جنرال ویلیم کالد ویل (Caldwell) را به جلو گیری از امر تحقیق روی فساد اداری و سوی استفاده در شفاخانه سردار محمد داود خان در کابل متهم نمود.

این شفاخانه از طریق ایالات متحده امریکا تمویل می گردد. قرار است دګروال گروزا موضوع به تعویق افتیدن تحقیق را بروز سه شنبه به کانگرس ایالات متحده امریکا بیان کند.

جنرال گروزا در یک سندیکه به کمیته فرعی بررسی و اصلاحات مجلس نمایند گان امریکا فرستاده گفته است، شواهد روشنی وجود دارد که جنرال کالد ویل تقاضا نمود تا تحقیق در مورد فساد اداری شفاخانه سردار محمد داود خان الی

بقیه در صفحه ۴

متن سخنرانی دوکتور محمد انور رئیس کمیته سیاسی حزب اسلامی در اجتماع بزرگ کابل

بعد از درود و ثنا :

برادران و خواهران، حاضرین جلسه بزرگ حزب اسلامی افغانستان !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

۲۶ سرطان آغاز صفحه بحرانی ای در تاریخ کشور ما بود که از آن تاریخ تا امروز فرزندان نهضت اسلامی از مقابله با رژیم محمد داؤود و رفقای مارکسیست لینینست وی که در آغوش شوروی وقت با محلول کفر و نفاق تغذیه شده بودند تا امروز دمی را به راحت نگذشتانده است از درد اعدام مضحکانه محصل صنف سوم پلی تخنیک کابل به عنوان رهبر کودتا، تا قربانگاه های دهمزنگ و پولی گون پلچرخی و ... تا ایستادگی در برابر تانک و توپ و بمباردمان طیارات دشمن همه آنها بدون تفکیک و جدایی همه بلاها را در کنار هم متحمل شده اند.

دردا که بیماری انحصار تسلط همچنان که دست امپراتوری های اموی، عباسی تا عثمانی را به خطای ریختاندن خون، قتل و کشتار بیرحمانه پدر، برادر و پسر، پسر کاکا، دوست و یار همسنگر در ابتلا انداخته بود. اینک از سقوط نجیب الله تا امروز پیکر نهضت اسلامی هم از آن در امان نماند از استمداد دشمنان عقیدتی در برابر برادران عقیدتی تا انواع ذلت های دیگر.

اما از سقوط نجیب به بعد دیگر همه مسؤولیت ها بحساب خانواده جهاد متوجه است.

بقیه در صفحه دوم

حامد کرزی خواهان میانجیگری مجدد آلمان در مذاکرات صلح با طالبان شد

کابل، رسانه ها:

رییس جمهور افغانستان از آلمان خواسته است که میانجیگری را برای مذاکرات صلح با طالبان دوباره آغاز کند.

در این مورد مجله شپیگل آلمان معلومات داده است.

نظر به معلومات مجله شپیگل، وزیر خارجه آلمان گیدو ویستر ویله در کنفرانس توکیو به رییس جمهور کرزی اطمینان داد که کشورش حاضر است تلاش ها را برای احیای مذاکرات بین حکومت افغانستان و طالبان دوباره آغاز نماید.

وزیر خارجه آلمان یکی از چند دیپلومات محدود غربی می باشد که بر روند سیاسی حل بحران افغانستان تاکید می کند.

آلمان در سال های ۲۰۱۰ و ۲۰۱۱ هم بین نماینده گان طالبان و ایالات متحده میانجیگری کرده بود. در آن وقت نماینده خاص آلمان مایکل شتاینر ابتکار عمل را

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

پر کنړ د بریدونو مسؤولیت د چا پر غاړه دی؟!

بلا موده وشوه چې د کنړ ولایت په سرحدي سیمو د پاکستان له خاوري توغندوی بریدونه کېږي چې یواځې تېره ورځ له سلو نه زیاتې مرمۍ فیر شوي چې په پایله کې د یوې ښځې په شمول څلور تنه شهیدان او زیات مالي تاوان یې رسولی دی.

که څه هم د پاکستان حکومت یوه ورځ هم د دغو بریدونو مسؤولیت په غاړه نه دی اخیستی او په اړه یې هر وخت ناخبري ښودلې ده، خو دا دومره ساده خبره هم نه ده چې یواځې انکار او ناخبري پاکستاني چارواکو ته برئت ور کړي، که چېرته واقعاً پاکستان په کنړ توغندي بریدونه نه کوي نو دا د پاکستاني چارواکو مسؤولیت دی چې بل چاته هم خپله خاوره د افغانستان په خلاف استعمالولو ته پرې نږدي او ددې د مخنیوی لپاره جدي اقدام وکړي، د سرحد نه اخوا چې د افغانستان پر خاوره هر ډول یرغل صورت نیسي مسؤولیت یې پاکستان ته متوجه دی، یا به یې پخپله مخنیوې کوي او یا به هم د افغانستان پوځ ته اجازه ور کوي چې دهغوی د خنثی کولو لپاره له سرحد نه پورې غاړې عملیات وکړي.

دا لومړی ځل نه دی چې د کنړ په ولایت کې توغندوي بریدونه کېږي بلکې د اوږدې مودې راهیسې د خونړیو بریدونو دغه لړۍ روانه ده چې د افغانستان له وړاندېنه د ځوریدلي ولس د صبر پیمانه یې ډکه کړې او دوی نه یواځې له چارواکو نه د ځوابي عملیاتو غوښتنه کوي، بلکې پخپله هم د ځواب ور کولو اجازه غواړي.

دا لومړی توغندي یرغل نه دی چې افغانان د پاکستان انکار او ناخبري وزغمي او صبر وکړي، آخر داسې پرله پسې مرګوني یرغلونه چې خلکو ته دروند ځاني او مالي تاوانونه اړوي او خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کېږي څنګه د پاکستان انکار او ناخبري ته صبر کولې شي، دا څنګه ممکن کېدلې شي چې په دومره اوږده موده کې دې پاکستان غونډې قوي پوځي ځواک لرونکی هېواد د دغو برید کوونکو څرک ونه لګولې شي او هغوی خپل منطقي انجام ته ونه رسوي؟ لنډه دا چې له سرحد نه پورې غاړې نه چې هر څوک د افغانستان پر خاوره یرغل کوي دهغه د څرک لګولو او خنثی کولو چارې د پاکستان پر غاړه دي، یواځې ناخبري او انکار ددې مشکل حل نشي راویستلې.

د افغانستان مسلمان ولس او ولسمشر کرزی له پاکستان سره د جګړې ذهنیت نه لري او نه غواړي چې له خپل مسلمان ورور هېواد سره په جګړه کې رانښکیل شي، پاکستان خپل دویم کور او خپل مېنې ګڼي ګټه یې خپله ګټه او تاوان یې خپل تاوان بولي، نه غواړي چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د جګړو په نتیجه کې د پاکستان دښمن پیاوړي او سالمیت ته یې نقصان ورسوي خو پاکستاني چارواکو او ولس ته هم پکار دي چې د افغانانو نیکو جذباتو قدر وکړي او د متقابل احترام او احساساتو څرګندونه وکړي.

افغانان له بل هر چا نه له خپلو ګاونډیانو خصوصاً له پاکستان سره د دوستی او وروری اړیکو ته لومړیتوب ور کوي او ورسره د ژوند په ټولو ډګرونو کې ملګرتیا ته اهمیت ور کوي. ځکه چې ددوی مادي او معنوي ګټه په دوستی او ورورۍ کې نغښتل شوې.

ددې خبرې څرګند ثبوتونه شته چې ځینې اسلام دښمنه کفري نړۍ په دې سیمه کې د پاکستان او افغانستان استحکام نشي زغملې هغوی ویره لري چې که چېرته دواړه هېوادونه پخپلو کې یو موټي او یو لاس شي نو دهغوی د شومو اهدافو په وړاندې به فولادي دیوال ودروي، نو ځکه ددې خبرې ضرورت دی چې د موجوده نازکو او حساسو شرائطو په نظر کې نیولو سره پاکستان د افغانستان په اړه خپل مثبت رول ولوبوي، ددې پر ځای چې له افغانستان سره د کرکې او دښمنی فضأ ایجاده کړي د دوستی او وروري لاسونه وغځوي، په افغانستان کې د سولې او ثبات د راوستلو لپاره په بشپړ اخلاص مرسته وکړي تر څو په کمین کې ناست دښمنان نا امیده او پخپلو شومو اهدافو کې ناکامه شي.

په افغانستان کې سوله او ثبات په سلو کې سل د پاکستان په ګټه دی، نه ښایي د سولې په راوستو کې د ناغیرۍ په ګناه کې خپل هېواد کمزوري او په دې توګه خپله پښه پخپله په تبر ووهي.

نکاتی چند اندر باب حکمت روزهٔ ماه مبارک رمضان

اعزامی

هلال ماه مبارک رمضان در اخیر هفته گذشته پدیدار شد و با رویت آن گرفتن روزه به مسلمانان فرض شد. در این ماه روزه داران به ضیافت خدای رحمن می شتابند و الله جل جلاله بزرگترین نعمتش را در همین ماه نصیب انسان ها ساخت و برای رهنمایی و هدایت انسان و نجاتش از ظلم و جهل رهنمود روشنی چون قرآن فرستاد، کتابی که رهنما و رحمت برای عالمیان است و در همه امور رهنمودهای هویدا و روشنی دارد و برای تفکیک حق از باطل، عدل از ظلم، مفید از مضر و بالآخره فرقان و میزان برای سنجش خوب و بد است.

در این ماه باید بحکم خدای سبحان روزه بگیریم، زیرا قرآن در همین ماه نازل شده است و ماه رمضان بهار قرآن می باشد.

بخاطر سپاسگذاری در برابر این بزرگترین نعمت الهی با اذعان بر اینکه خداوند جل جلاله بواسطه همین کتاب ما را هدایت کرده است، بایست این ماه را روزه گرفت. روزه امساک از خوردن، نوشیدن و ترک مجامعت حلال از صبح صادق الی غروب آفتاب می باشد. اثر واضح روزه گرفتن با خودداری از خورد و نوش و شهوت در طول روز، گرسنگی می باشد. اگر چه گرسنگی ظاهراً بر انسان سخت می گذرد و او را در طول روز ظاهراً کسل و ضعیف می کند، ولی در ذیل فواید کم خوری و گرسنگی و آفت های سیری را بر می شماریم تا باشد که شمه یی از اسرار و حکمت های روزه ماه مبارک رمضان روشن شده باشد.

- گرسنگی برای انسان، صفایی قلب، بیداری ضمیر، قریحه سرشار و قدرت بصیرت می بخشد، زیرا شکم پُر، کم خوری و گرسنگی، موجب رقت، پاکی و صفایی باطن می شود، چنان رقت و صفایی که موجب آمادگی قلب برای دریافت لذت مناجات میشود و از ذکر پروردگار متأثر و متلذذ می گردد. زاهدی می گوید: شیرین ترین و با لذت ترین عبادت برای من وقتی است که شکمم به پشتم چسپیده باشد.

- فایده دیگر کم خوری و گرسنگی، تضعیف نفس اماره و از بین رفتن غرور، خودخواهی، جاه طلبی و خودنمایی است. بدون شک غرور منشأ طغیان، سرکشی و غفلت از یاد خداوند متعال است و سرکشی نفس با هیچ چیز دیگری چون گرسنگی تضعیف نمی شود.

- کم خوری و گرسنگی، باعث میشود که انسان ابتلاها و عذاب های خداوندی را فراموش نکند و همواره به یاد کسانی باشد که به مشکلات و بلاها دچارند. خیلی از مردم از حال گرسنه ها خبر ندارند و گمان می کنند که همه مثل آنها سیر اند.

- یکی از فواید گرسنگی و کم خوری، تضعیف شهوت و انصراف از ارتکاب گناهان و تسلط به نفس اماره می باشد، چرا که منشأ کلیه گناهان شهوت، علاقه و تمایل شدید به آن و قدرت انجام آن می باشد. محرک شهوت و قدرت، غذا است و با کم خوردن آن، نیروی شهوت نیز تضعیف می گردد.

- کم خوری، خواب را کم و بیداری را زیاد می کند، زیرا کسیکه سیر می شود، آب می نوشد و نوشیدن زیاد آب، سبب خواب بیشتر می شود.

- کم خوری موجب می شود که عبادت آسان تر انجام یابد و پرخوری و سیری انگیزه عبادت را ضعیف می کند و انسان را از زیاد عبادت کردن باز میدارد.

- کم خوری موجب صحتمندی و دفع امراض گوناگون می شود زیرا پرخوری باعث خستگی معده و ته نشین شدن چربی ها در عروق گردیده و موجب بروز امراض گوناگون میشود. نقل شده است که یکروز فرزند لقمان حکیم با بچه همبازی اش جنگ و دعوا کرد، فرزند لقمان حکیم به آن بچه گفت: اگر مریض شدی و نزد پدرم آمدی، به او می گویم برایت دوا ندهد، آن بچه گفت: فرق نمی کند کم می خورم، مریض نمی شوم و به پدرت مراجعه نمی کنم.

- کم خوری موجب کم خرچی است کسیکه به کم خوری عادت بگیرد با در آمد کم هم می تواند زندگی خود را عیار سازد و مصرف کم انسان را از ارتکاب فساد، رشوت، اختلاس، فریب و سایر اعمال ناروا باز می دارد. یکی از حکما گفته است که من تمام نیازهایم را با ترک آنها مرفوع می سازم و هرگاه چیزی را برای ارضای نفس خود بخواهم قرض کنم، آن را ترک نموده و خود را وامدار نفس خود می کنم.

- کم خوری و گرسنگی، انسان را ایثارگر و سخی بار می آورد و او با کم کردن مقدار مورد تمایل نفسش، نیاز یتیمان، مسکینان و تهی دستان را برآورده می سازد و در روز قیامت در زیر سایه بخشش الهی قرار میگیرد. بخاطر باید داشت که روزه دارای سه درجه است: روزهٔ عموم، روزهٔ مخصوص و روزهٔ خاص الخاص.

- روزهٔ عموم آنست که شکم از رسیدن خوردنی ها و نوشیدنی ها مطابق واجبات و سنت های روزه منع کرده شود.

- روزه مخصوص آنست که علاوه از امساک چشم، گوش، دست، زبان، پا و سایر اعضا و جوارح بدن از مبادرت به گناه دور نگهداشته شوند.

- اما روزه خاص الخاص، آنست که قلب از آرزوهای بی ارزش و افکار دنیایی دوری کند، به حالت امساک در آید و از هر چیزی به غیر از خدا قطع علاقه کند. اینست روزه خاص الخاص که با تفکر و توجه به غیر از خداوند متعال و روز آخرت باطل میشود.

غیر از فریضه روزه ماه مبارک رمضان روزه های سنت با توجه به فضیلت و ارزش بعضی از روزها به نزد خداوند پاک محبوبیت بیشتری دارند. بعضی از روزهای مبارک در طول سال، بعضی در طول هر ماه و بعضی در طول هر هفته قرار دارند. روزهای مبارک موجود در طول سال بعد از ماه مبارک رمضان عبارت اند از روز عرفه، روز عاشورا، ده روز اول ماه ذوالحجه، دههٔ اول ماه محرم و تمام ماه های حرام (ذوالقعده، ذوالحجه، محرم و رجب) همه ایام این ماه ها روزهای هستند مبارک شریف و روزه گرفتن آن ها سنت می باشند. پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم در ماه شعبان به اندازه روزه دار می بود که اطرافیشانش گمان می کرد که ماه رمضان است. آن حضرت صلی الله علیه وسلم در ماه های حرام، هر بار یک و یا سه روز پشت سر هم روزه می گرفت، روزهای مبارک هر ماه در اول، وسط و آخر آن قرار دارند.

روزهای وسط که به ایام بیض معروف هستند، عبارت از سیزدهم، چهاردهم و پانزدهم هر ماه است که روزهٔ آنها مستحب می باشد، اما روزهای مبارک هفته، دوشنبه، پنجشنبه و جمعه هستند. این ها روزهای مبارکی هستند که روزه گرفتن و انجام هر کار خیر و احسان در آن ها مستحب است و اعمال نیک و به برکت این روزها ثوابش بیشتر می گردد. روزه تمام سال را علما مکروه می دانند و با این عمل، مسلمان از سنت پیامبر دور می شود، پیامبر صلی الله علیه وسلم این کار را نکرده است و سنت او درین مورد مبتنی است بر روزه بعضی ایام و افطار در بعضی دیگر، با روزه تمام سال شخص به نفس خود حرج و حجز روا می دارد، در حالیکه خداوند در کار دین آسانگیری و رخصت را می پسندد.

متن سخنرانی دوکتور محمد انور رئیس کمیته سیاسی حزب اسلامی در اجتماع بزرگ کابل

(ادامهء از صفحه اول)

اگر ما همدیگر را در فضای اعتماد و از خودگذری در آغوش بپذیریم و نظامی را که بیش از چهل سال به اینسوست بخاطر آن قربانی ها داده ایم تأسیس نمائیم، قبل از بهار عرب و هر بهاری، بهار آورده ایم و در برابر وسوسه های شیطانی به حکم احکم الحاکمین و إِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ...

به پروردگار عالمیان پناه بریم، ملتی را از فتنه ها نجات داده ایم. و راه های همه شیاطین انسی و جنی را سد نموده ایم.

توجه کنید! آنهائی که اکنون انتخابات مصر را با همه مداخلات ناروای دشمنان با اکثریت قاطع برنده شده اند نه حسن البنا اند و نه سید قطب، نه حسن الهضیبی اند و نه عمر تلمسانی و مصطفی مشهور، بلکه اهداف و مرامهای آنها است و آرمانهای آنها که تحقق می یابد.

بیائید همه آنهائی که روزی هم در راه خدا قدم گذاشته اید بی آنکه اشتباهات گذشته را افتخارات قلمداد نمائید و از آن دفاع کنید، در کنار هم بایستید. گذشته هائی را که در مسیر غیر از اهداف جهاد قدم گذاشته بودیه به فراموشی بسپارید، از خطأ و اشتباهات همدیگر اغماض نموده کشور را از اندیشه آنکه گویا بحران در پیش است نجات دهید. نظامی با پایه های وسیع از همه متعهدان به افغانستان اسلامی، آزاد، آباد و آبرومند تشکیل دهید.

از حد پیش مخواهید و از وقت پیش به شیطان و وسوسه های آن در میان تان راه ندهید چشم هائی را که حسودانه به انتظار اثاره فتنه های جنگ داخلی، تجزیه و پراگندگی در افغانستان اند کور سازید.

واجب می دانم از جلالتمآب حامد کرزی که اینک ملت افغانستان همه احزاب و شخصیت ها طوعاً و کرهاً ازو شان اطاعت نموده اند و سال یازدهم ریاست جمهوری شان به طرف اکمال می رود و دو سال دیگر هم برین سرزمین حکمروائی شان ادامه دارد. صمصمانه و برادرانه تقاضا نمایم جزای احسان را به احسان پاسخ گویند.

ملت افغان را در راه رسیدن به یک حکومت وحدت ملی متشکل از شخصیت ها و جهت هائی که مصمانه برای افغانستان پاکیزه از فساد، ظلم و بی عدالتی، مواد مخدر، مافیا با همه انواع آن تلاش مینمایند یاری دهد و دهه ایرا که جامعه جهانی برای افغانستان خودکفا و متکی بخود عنوان نموده تحقق بخشند و برای متحد ساختن این نیروها بیشتر از خود آنها بکوشند ملت مومن و مجاهد افغان نمی خواهد از اعتبار، شهرت و شخصیت و صلاحیت های شان آنهائی برای ادامه امتیازات خود استفاده کنند که در همین ده و نیم سال همه تلاش های شانرا در راه رسیدن به افغانستان مامون و مرفه از کامیابی بازمانده اند و مهر فساد را بر پیشانی نظام شان کوبیده اند.

به دعای افغانستان آزاد، آباد، مرفه و سربلند

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د دیني عالم او د حزب اسلامي د دعوت او تنظیم د مشر مولوی صاحب سرفراز سره لنډه مرکه

مولوی جانباز سرفراز چې د حزب اسلامي افغاستان ددعوت او تنظیم مشرۍ هم تر غاړې ده یو له هغه شخصیتونو نه دی چې د سره ښکلاک پر وړاندې د پوهنتون له دورې د اسلامي نهضت او مسلمانو ځوانانو ملګری و او په دې لار کې یې نه ستړی کېدونکې مبارزه کړې د اسلامي نهضت په ځلونه او د اسلامي انقلاب په کامیابۍ کې یې نه هېرېدونکې هلې ځلې کړي د خپل عمر یوه زیاته برخه یې په همدې لارکې تېره کړې. مولوي صیب ښه لیکوا ل دقرآن کریم مفسر او د چارو ښه شنونکې دی په ټول هېواد کې د یو ستر داعي او مجاهد په توګه پېژندل شوی، شهادت اونېزې لپاره مووږسره د یوې مرکې غوښتنه وکړه په ورین تندي یې ومنله. دا تاسو او دا هم محترم مولوي صاحب سرفراز:

(عبدالله کامه وال)

۱ س: قدرمن مولوی صاحب که مهرباني وکړئ او د شهادت درنو لوستونکو ته د حزب اسلامي افغانستان په روانو سیاسي او دعوتي فعالیتونو لنډه رڼا واچوئ؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان له هغه وخت څخه چې د عدلیې په وزارت کې د رسمي ګوند په توګه ثبت شوی دی د سیاسي او دعوتي کړنو لنډیز یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

۱) هڅه شوې ده چې د هېواد په ټولو پوهنتونونو او تعلیمي ادارو کې له ځوانانو سره اړیکې ټینګې وي، دهغوی د روزنې او د اسلامي معلوماتو د زیاتولو لپاره په مختلفو وختونو کې د قرآن کریم، نبوی احادیثو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سیرت په هکله میاشتنی، اونیز او ورځنی درسونه ورکړل شوي دي.

۲) پاملرنه شوې ده چې د هېواد په ګوټ، ګوټ کې د افغان ولس د روزنې لپاره د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر دورې فعالې او ګرځندی شي.

۳) ولسمشرۍ، ولایتي شوراګانو او ملي شورا په ټاکنو کې د خپلو نیمګړو امکاناتو په رڼا کې برخه اخیستل شوې ده.

د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د حزب اسلامي افغانستان د ارکانو د شورا د پریکړې په رڼا کې د حزب اسلامي څه دپاسه یو میلیون غړو رایه ورکړې او هغه کاندید بریمن شوی دی چې د حزب اسلامي غړو رایه ورکړې ده.

۲ س: حزب اسلامي افغانستان د اساسي قانون له مخې رسمي ګوند دی، تر اوسه ددې حزب د ګوندي فعالیتونو په باب معلومات وړاندې کړئ؟

ځ: د اوسنی ملي شورا په دواړو مجلسونو کې حزب اسلامي افغانستان ارزښتناکه ونډه لري.

په مشرانو جرګه کې د حزب اسلامي افغانستان څه دپاسه (۲۰) مشران خویندی او وروڼه غړیتوب لري. او په ولسي جرګه کې له (۳۰) څخه ډېر غړي د حزب اسلامي افغانستان له غړو څخه خویندی او وروڼه برخه من دي.

د افغانستان په ټولو ولایتي شوراګانو کې د حزب اسلامي افغانستان نمایندګی شته، چې په ځینو ولایتونو کې د ولایتي شوراګانو مشران د حزب اسلامي افغانستان مشران غړي دي.

۳ س: حزب په تېرو ټاکنو کې فعاله ونډه لرلې، په ولایتي شوراګانو او ولسي جرګه کې ددې ګوند د بریالیو غړیو په باب په لنډه توګه یو څه ووایاست؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان لومړنی تنظیم دی، چې د اساسي قانون په رڼا کې یې په پارلمان کې د خپلو غړو او همسنګرو خلکو په ګډون یو پارلماني ګروپ جوړ کړ، دا د افغانستان په پارلماني تاریخ کې لومړنی کار دی چې د حزب اسلامي افغانستان فعال او هوښیار غړي یې ترسره کوي.

ددې ګروپ مشر له پروان ولایت څخه د ولسي جرګې غړی حاجی الماس دی. معاونین یې انجنیر عبدالغفار، منشي یې اقبال صافی، خبرلوڅ یې انجنیر شیر ولی وردګ دی، حاجی علی محمد، عبیدالله بارکزی او نور وروڼه یې فعال غړي دي.

۴ س: حزب اسلامي افغانستان د ((سبا)) په نامه یو پارلماني ګروپ هم لري، چې په پارلمان کې خواکمن ګروپ ګڼل کېږي، لطفاً ددغه ګروپ د ترکیب په باب معلومات وړاندې کړئ؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان د هېواد په ټولو ولایتونو کې تشکیلات لري خو لدې کبله چې مونږ له مرکز څخه وس نه لرو چې ولایتي تشکیلاتو ته د دفترونو کرایه او نورو اداري چارو مصارف ورکړو نو یوازې په هغو ولایتونو کې رسمي دفترونه لرو چې دهمغه ولایت د حزب اسلامي غړو په خپلو امکاناتو دفترونه نیولي دي چې عبارت دي له:

بامیان، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، بلخ، سمنګان، بغلان، کندز، تخار، بدخشان، لغمان، کونړ، ننګرهار، لوګر، میدان وردګ، پکتیا، خوست او پکتیکا څخه.

باید ووایم چې د مرکز کابل په شمول د هېواد د ټولو ولایتونو دفترونه کرایي دفترونه دي، یوازې د نیمروز په ولایت کې د حزب اسلامي د غړو په هلو ځلو او د منطقې د خیر خلکو په ملاتړ حزب اسلامي خپل مستقل دفتر لري چې ملکیت یې له حزب اسلامي سره دی.

په همدې شان په هلمند او لغمان ولایتونو کې د حزب اسلامي د ولایتي دفترونو لپاره ځمکه لرو، خو تر اوسه پرې د امکاناتو د نشتوالي له کبله آبادي نه ده شوې.

۵ س: حزب اسلامي یو افغانستان شموله ګوند دی، تاسې په کومو ولایاتو کې ګوندي فعالیتونه لرئ؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان په خپلو تشکیلاتو کې د (ځوانانو د ټولنې) په نوم ځانګړي تشکیلات لري، چې په سر کې یې اوس ډاکتر سیف الدین "عمرخیل" دی او همدا شان ځانګړی شورا او اجرائیه غونډه لري.

ځوانان په ټول هېواد، په ځانګړي توګه په پوهنتونو کې فعال موجودیت لري، او له همدې کبله د ځوانانو په هره ملي غونډه کې د دوی رول رغنده وي.

د نمونې په توګه هغې (۱۷۰۰) کسیزې د ځوانانو غونډې ته اشاره کولای شو چې پدې وروستیو کې د ځوانانو په نوښت د لویې جرګې په خیمه کې جوړه شوې وه، پدې غونډه کې له ټول هېواد څخه د ټولو سیاسي او اجتماعي اړخونو نمایندګان برخه من وو، خو د تشکیلاتو او تعیناتو انتخاباتي مرحلې یې د حزب اسلامي رغنده رول خورا ځرګند او ښکاره کړ.

۶ س: د ځوانانو په برخه د حزب د فعالیتونو په باب رڼا واچوئ؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان غواړي چې افغان ولس راوېښ کړي چې په هېواد کې د سولې او امنیت په راوستلو او د ملي وحدت په ټینګښت کې بنسټیز رول ولوبوي.

د هېواد د بیا آبادۍ، د غلا، چور، د قومي، ژبني او مذهبي تعصبونو مقابله وکړي. نو ځکه یې بلخ ولایت په مرکز مزار شریف او کابل کې لویې غونډې وکړې.

تر څو له یوې خوا افغان ولس ته د ویښتیا او فعالېدو غږ وکړي او له بلې لورې د افغانستان دښمنان وپوهوي چې افغانستان خپلواک، یو موټی اسلامي هېواد دی، نه یې څوک ټوټه، ټوټه کولای شي او نه یې څوک اسلامي پېژندګلوي ځپنه کولای شي او إن شاء الله زمونږ هیله ده چې په راتلونکو نژدې وختونو کې په ټول هېواد په ځانګړی توګه په هرات، کندهار، ننګرهار، پکتیا، پروان او کندز کې همدا شان لوی غونډې ولرو.

۷ س: حزب اسلامي پدې شپو ورځو کې د هېواد په لویو ښارونو کې ستري غونډې وکړې لکه په مزار شریف کې څه موده وړاندې د حزب اسلامي لویه غونډه او تېره اونۍ په پلازمېنې کابل کې د لوی جرګې په تالار کې ستره غونډه وشوه، د حزب موخه له دغو غونډو څه ده؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان په دې اند دی چې د ټولو سیاسي، ملي او اسلامي اړخو یووالی هېواد له روانو ستونزو او کړاوونو څخه ویستلای شي نو لدې کبله یې د اجرائیه شورا په پریکړه یو پنځه کسیز پلاوی جوړ کړ چې له ټولو مهمو مطرحو اړخونو سره تفاهم وکړي.

۸ س: لکه څنګه چې تاسو یادونه وکړه د راتلونکیو ټاکنو لپاره د ګوندونو ترمنځ ګرمې خبرې اترې روانې دي، په دې اړه ستاسو پریکړه څه ده؟

ځ: حزب اسلامي افغانستان یو ځل بیا د ولس مشرۍ په انتخاباتو کې فعاله برخه اخلي.

خو دا پریکړه به د حزب اسلامي غړی کوي چې خپل مستقل کاندید ورکړي او که له نورو اړخونو سره د تفاهم په رڼا کې کاندید وړاندې کړي.

خو کومه خبره چې یقیني ده هغه داده چې حزب اسلامي به هغه څوک د هېواد د ولس مشرۍ لپاره وړاندې کوي چې د ملي وحدت سمبول وي او د کورنی غړی یې په اختلاس، چور، غلا او د ملي شتمنیو په تالان کې برخه ونه لري.

او دا هم یخه ده چې حزب اسلامي به د خپل موجودیت په رڼا کې قدم اخلي، د تېر په شان په درواغجنو وعدو به له چاسره منډه نه وهي.

د ټولو کارونو پای د الله په لاس کې ده، هغه ته مو سوال دی چې لارښونه راته وکړي او دهغه د دین په واکمنولو کې راسره مرسته وکړي.

و ما ذالک علی الله بعزیز

افغانستان هم پرمختګ کولې شي، خو!

محمد خلیل

افغان ولسمشر تېره اونۍ د ځوانانو د سولې ملي جرګې ته وویل:

افغانان دا مهال د ګاونډیانو په نیت پوه شوي دي، پاکستان په زور او زیر سره پېژني او همداراز ایران هم له سره تر پښو پېژني، ده وویل امریکایي هم په مخ کې لوڅه لغړه ولاړه ده او لدې وروسته باید افغانان په خپله خپل هېواد جوړ کړي او که له دې وروسته نورې ستونزې راپورته کېږي مسؤلیت یې د افغانانو پر غاړه دی او له دې اخوا د افغانستان په اړه بهرنیان ملامته نه دي، ده وویل افغانان په تېرو کلونو کې د ناپوهی له امله له ناخوالو سره مخامخ شول او دا مهال پوهېدلي دي، نو باید له ناخوالو او ستونزو سره مخامخ نه شي.

کرزي د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې ته په اشارې سره وویل، چې هر یو هېواد په افغانستان کې ګټې لري او د همدې لپاره غواړي لاسوهنه وکړي. ده زیاته کړه اوس چې موږ د پوهې دعوه کوو که په رښتیا پوه شوي یو، له پاکستان څخه باید ګیله ونه کړو د پاکستان چې لاس بر شي لاسوهنه کوي، که موږ هم برلاسي شوو لاسوهنه کوو، که د ایران لاس بر شي لاسوهنه کوي که زموږ هم لاس بر شي لاسوهنه کوو.

امریکا نن زور لري لاسوهنه کوي که موږ هم زور پیدا کړو په واشنګټن کې د خپلې خوښې حکومت جوړوو، او داسې ولس مشر راولو چې د افغانستان د ګټو تابع وي.

جمهور رئیس کرزي چې د ځوانانو د سولې ملي جرګې ته څه ویلي دي بالکل تاریخي حقیقت لري دا یواځې افغانستان نه دی چې دښمن او دوست لري بلکې د نړۍ په سر چې څومره هېوادونه شتون لري په یو ډول سرنوشت او حالت کې قرار لري. شاید په نړۍ کې داسې کوم هېواد نه وي چې هغه دښمن، بدخواه او حاسد ونه لري، او یا هم له جنګ سره مخامخ شوې نه وي، پاکستان له هندوستان سره تاریخي دښمني لري او دواړه د ۱۹۶۵ کال څخه د دښمنۍ پر پوله ناست دي او درې کرته خونړۍ جګړې هم کړي دي. دغه راز هندوستان او چین پخپلو کې د تبت په سر له اوږدې مودې نه د دښمنۍ په مورچل کې ناست دي او یو ځل جګړه یې هم کړې ده، پخپله بیا چین له روس، تایوان، جاپان، هندوستان او امریکا سره هم ښې اړیکې نه لري او د یو بل د کمزورۍ کولو په لټه کې دي، روسیه، امریکا، کیوبا، برازیل او د نړۍ ډېر غټ هېوادونه له چا سره له ترېګنۍ او بدبینۍ پرته په آرامه ناست نه دي، زموږ په ګاونډ کې ایران خو نژدې څو لویو لویو هېوادو سره لاس او ګریوان دی. لنډه دا چې ددې نړۍ په نقشه کې چې څوک چېرته اوسېږي دښمن هم لري او دوست هم او دا ټول د خپلو خپلو ګټو او ذاتي غرضونو لپاره دي.

یواځې هغو هېوادونو د خپلې خاورې استقلال، استحکام او زمکنۍ بشپړتیا ساتلی او اقتصاد، تعلیم، ساینس، ټکنالوژي، صنعت، تجارت، سیاست، دفاع او نورو ګټو مدونو کې په زړه پورې بریالیتوبونه ترلاسه کړي چې له خپلو خپلو هېوادونو، ولسونو او استقلال سره د زړه له کومې مینه کړې، دهغوی د ساتنې او دفاع لپاره هره شیبه فکر او سوچ کړی او یوې ثانیې لپاره هم ترېنه غافله شوي نه دي، له ټولو هر هغو کړنو څخه په کلکه ډډه کړې چې د هېواد او ولس په تاوان تمامېږي.

هر هېواد د خپلو اوسېدونکو لپاره د یو بڼ مثال لري او د کوم بڼ خاوند چې د خپل بڼ ساتنه په خپلو وینو او خولو ونه کړي، دیوالونه یې د غلو له کنډر کولو څخه ونه ژغوري، د ونو د میوو ساتنه ونه کړي نو هغه بڼ که څومره لوی او اوچت دیوالونه ولې ونه لري په ډېر لږ وخت کې دیوالونه یې له زمکې سره زمکه او ونې یې له بیخ سره له منځه وړي.

متأسفانه موږ افغانان په دې خبره د پوهېدو باوجود چې د افغانستان د خاورې دښمنان ډېر دي او هر یو غواړي چې خپله ګټه ترېنه پورته او بالآخره له منځه یوسي مګر بیا هم پدې حقیقت نه پوهېږو چې ددوی د شومو عزایمو د شنډولو لپاره څه کول پکار دي او څه باید وکړی شي؟ موږ د نورو نړیو تاریخ او کړنو ته نه ګورو چې هغوی له دښمن نه د خپلو هېوادو د ساتلو لپاره کوم تدابیر او پلانونه پکار اچولي دي او هغه کوم ګټور پلانونه دي چې نه یواځې دا چې پر مټ یې خپل هېوادونه د دښمنانو له هر ډول لاسوهنو څخه ساتلي بلکې دومره غښتلي او قوي شوي هم دي چې په نورو هېوادو کې د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره لاسوهنو ته چمتو کړي دي؟

که پاکستان چې ټول عمر یې ۶۷ کاله دی د هندوستان په څېر یو لوی هېواد سره د ټکر خواک پیدا کولې او خپل هېواد دهغوی له یرغل نه ساتلې شي، په اتومي وسلو، میزائل، ټکنالوژي او نورو پوځي اړتیاو کې تقریباً په سلو کې ۹۰ خودکفا کېدلې شي نو په خوا کې پروت پنځه زره کلن تاریخ لرونکی هېواد ولې تر اوسه د یو کارتوس، عادي ټوپک او ان د ګنډلو د ستنې په جوړولو نه قادر یږي؟!

آیا داسې یو هېواد چې صرف د آزادي او استقلال د نارې په پورته کولو بسنه کوي او دخپل استقلال د حفاظت لپاره نه منظم پوځ جوړوي او نه هم د وسلو په جوړولو کې دلچسپي اخلي، نه د کرهنې په مد کې د زیاتو حاصلاتو د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې کوي او نه هم په نورو ضروري او حیاتي علومو کې د لاس رسی شوق لري، بلکې په هر څه کې بل چاته د ګدایي لاسونو د اوږدولو روږدي وي نو هغوی څنګه کولې شي چې په تشو سورو نارو، ګیلو او شکوو سره د نورو لاسونه له خپلو ګریوانو څخه لیرې او خانونه ترېنه خلاص کړي؟

زموږ د افغانستان وګړي د سیالی او سیالداری خبرې خو کوي له خپلو دښمنانو سره د جګړې شعارونه خو زمزمه کوي مګر د دښمن د مقابلې او له هغوی نه د میدان د ګټو لپاره دهغو وسایلو، مهماتو او پوځي سامان آلاتو د جوړو لپاره بالکل لاس نه پورې کوي

پاتې ۴ مخ

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د کابل بانک د مالي بحران په اړه د نړیوالو ورځپاڼو تبصرې

نیویارک ټایمز ورځپاڼې، د افغانستان پر شمال ختیځو سیمو د پاکستان له خوا د راکټي حملو په اړه یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه د افغان چارواکو په حواله لیکي: په تیرو دوو ورځو کې لس هاوو مزایل پر دې سیمو، چې له طالبانو سره تړلي ګروپونه او د القاعده وسله وال فعال دي، توغول شوي دي.

د تیرو دوو ورځو په حملو کې د څلورو تنو د وژل کیدو خبر ورکړل شوی دی.

د مزایلو دې حملو یو وار بیا پر سرحدونو د وسله والو د ازاد تګ راتګ په اړه د زیاتیدونکو اندیښنو څخه پرده پورته کړه.

د افغانستان، پاکستان او امریکا حکومتونه موافق دي، چې دا یوه عمده ستونزه ده.

پاکستان وایي، چې افغان او امریکایي ځواکونو په تیرو ۲ کلونو کې تر ډیره حده د ختیځ دې سیمو ته شا کړه، چې دې کار د پاکستاني طالبانو ډلو ته په سیمه کې د خوندي کیدو لپاره لاره پرانیستې ده.

نیویارک ټایمز لیکي: امریکایي او افغان چارواکي له ډیرې مودې راهیسې پر پاکستان تور لګوي، چې پر سرحد د تنګ راتنګ لپاره د وسله والو طالبانو سره همکاري کوي.

د نیویارک ټایمز په حواله، کابل او واشنګټن دواړه پر اسلام اباد تور لګوي، چې د سرحد په اوږدو کې، دواړو خواوو ته له وسله والو طالبانو سره مرسته کوي او هلته یې د القاعده د وسله والو پر خوندي ځایونو سترګې پټې کړې دي.

نیویارک ټایمز لیکي، د افغانستان شمال ختیځې سیمې ډیرې صعب العبور او لرې پرتې دي نو له دې امله د دریو وارو هېوادونو چارواکي له مسلې سره په احتیاط چلند کوي.

د ورځپاڼې په حواله، د سیمې لوړو غرونو او پیچلو درو، چې د وسله والو لپاره اسان خوندي ځایونه لري، د چارواکو لپاره د ستونزې د حل چارې ډیرې محدودې کړې دي.

د ټایمز ورځپاڼې بیا د کابل بانک د مالي بحران په اړه مقاله خپره لري.

ورځپاڼه لیکي: د کابل بانک د ۵۸۰ میلیونو

پونډو پور له امله د رامنځ ته شوې رسوایي حل او د دې بانک د جایدادونو بیرته لاس ته راوړل، ډیره ګرانه خبره ده.

خو عبدالحمید محبي، له ارقامو سره مینې او د هغه هېواد وهڅاوه، چې دې کار ته ملا وتړي، محبي ټایمز ته ویلي: زه د دغه مسولیت په منلو پښیمان یم. دا ډیره پیچلې مسله ده. اوس، تاسې ما د جنجالونو مشر بللای شی.

عبدالحمید محبي، چې مسلکي بانکر دی، د طالبانو په رژیم کې د خپل بې سواده ریسانو لپاره کار کاوه.

د روان کال په پیل کې د افغانستان د مرکزي بانک ریس له ده څخه غوښتنه وکړه، چې له یوې مرستندویه اداري سره خپل ارام کار پریږدي، او د ناکام شوي کابل بانک چارې په غاړه واخلي.

ټایمز لیکي: د وروستیو محاسبو له مخې داسې ویل کیږي، چې د کابل بانک ۸۲ میلیونه پونډ نقدي پیسې او د سلو میلیونو په ارزښت جایدادونه یې رغول شوي دي.

دا پیسې تر ډیره حده په دوبی، چې د کابل بانک مسولین به د عیش اونوش لپاره ورتلل، ترلاسه شوې دي.

د ټایمز په حواله، د کابل بانک اکثره معاملې بحراني وې، خو ځیني یې د چالبازی ډکه پانګونه هم ګڼل کیده.

د ټایمز په وینا، په حساب کتاب کې هیڅ کوچنی رقم له پامه نه شي غورځول کیدای.

په دې کې هغه شپږسوه پونډه هم شامل دي، چې د بانک یوه ادنی مامور ته د پیشکی معاش په توګه ورکړل شوې وې، او بیرته ځیني واخیستل شوې.

ټایمز لیکي، ښاغلي محبي او د مالي شخړو د حل د کمیسون مشر، چې عبدالله دوراني نومیږي او په امریکا کې روزل شوی قانونپوه دي، دواړه د کابل بانک د پیسو د ترلاسه کولو چارې پر مخ بیایي.

دوي دواړه له خپلو کارونو راضي دی او ادعا کوي، چې تر اوسه یې د کابل بانک ډیرش په سلو کې مالونه او شتمنی بیرته تر لاسه کړي دی او دا د نړیوالو تجربو په مقایسه یو ښه رقم دی.

افغانستان هم پرمختګ کولی ...

...چې د دښمن د خطرناکو عزائمو د شنډولو لپاره خورا اړین او بنسټیز رول لوبوي، جنګ یواځې نه په جرئت کیږي او نه په ډېرو پیسو او په ډېرو سرونو، بلکې د دښمن د موثرې دفاع او د جګړې په ډګر کې هغه ته ملا ماتوونکې ماتې ورکولو لپاره ملي یووالي، پیاوړي اقتصاد، منظم پوځي ځواک، شجاعت، ایمان، یقین او اطاعت ته ضرورت دی خو ډېر افسوس چې زیاتره افغانان له دغو ټولو اوصافو څخه محروم دي نو ځکه ددې پر ځای چې نور هېوادونه ملامت کړو خپلو ځانو ته د ملامتی ګوتې ونیسو او په دې خبره خجالت وباسو چې آخر موږ افغانان له خپلو سیالانو ولې وروسته پاتې یو؟ ! هغه کوم لاملونه دي چې موږ یې د پرمختګ په ډګر کې له خپلو سیالانو نه ډېر وروسته پریښي یو؟

په دې مادی نړۍ کې له چانه دا تمه او توقع کول چې هېڅوک دې د بل چا په داخلي چارو کې ګوتې ونه وهي او یادې دخپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره څوک ونه خوروي له حماقت پرته بل څه نه دی.

که موږ افغانان واقعاً غواړو چې د پردیو د مداخلې لاسونه لنډ او خپل هېواد د هغوی له هر اړخیز یرغل نه وساتو نو له دې پرته بله چاره پر وړاندې نه لرو چې خپله ټوله پاملرنه ملي یووالي، تعلیم تربیه، پیاوړي اقتصاد، منظم پوځ په ساینسي او حربي علومو کې بشپړ مهارت او له هېواد، خاورې او ولس سره مینې ته واړوو، ټول هغه فنون او مهارتونه ترلاسه کړو چې د هېواد د موثرې دفاع لپاره خورا ضروري دي، که الله مکړه صرف واویلا، ګلې، شکوې او بل چاته د ګدایي کچکول نیول خپل عادت وګرځوو او تل بل چاته د تمې سترګې ونیسو نو له څه شک او شبهې پرته موږ د خپلې خاورې، عقیدې او استقلال دښمنان پخپله یو. که موږ افغانان واقعاً اسلامي او افغاني فخر له لاسه ورکول نه غواړو نو لدې پرته بله هېڅ لاره پرمخ نه لرو چې د اتفاق، ننګ او پوهې په توره ملا وتړو او له همدې لارې د خپل هېواد او ناموس ساتنه وکړو. خو ښاغلی کرزي چې د افغانستان د مسلمان ولس جمهور رئیس دی دا مسؤولیت له بل هر افغان نه ورته زیات متوجه دی چې د ملي وحدت، ملي استحکام او په دفاعي چارو کې د بشپړو مهارتونو د ترلاسه کولو او غښتلي پوځي ځواک د چمتو کولو لپاره خپلې ټولې هلې ځلې ونه سپموي، د هېواد، اسلام او ولس له دښمنانو سره له تسامح او مصلحت پالنې څخه ډډه وکړي، کارونه اهل کار ته وسپاري او په فساد کې د ککړو عناصرو د ملګرتیا پر ځای د قانون منګولو ته وسپاري.

دننګرهار په دره نور ولسوالی ...

روښانه کړي، او دا کار تاسو هغه وخت کولای شئ چې تاسې د خلکو خادمان شئ.

وروسته د دره نور ولسوال حسن خان خبرې وکړې او د حزب اسلامی د متعهدینو څخه یې غوښتنه وکړه چې ځرنګه مو د هېواد په آزادی کې برخه اخیستې ده همدغه شان د ډاډمنې سولې اوثبات په راوستو کې هم همکاري وکړئ. وروسته د روداتو ولسوال الحاج حضرت خان (خاکسار) هر اړخیزه وینا وکړه او د حزب اسلامی متعهدین یې خپل مسئولیتونو ته متوجه کړل. وروسته د ننګرهار اسلامي پوهنتون علمی مرستیال دکتور دل اقا (وقار) ارزښتناکه وینا وکړه او ځوانان یې خپل مسئولیتونو ته متوجه کړل او ویې ویل چې حزب اسلامی یو دعوتي تنظیم دی او مونږ دا حق لرو چې د اساسی قانون په چوکاټ کې خپل فعالیتونه تیز او تند کړو ترڅو ځوانانو کې تبدیلي راشی او په اسلامي روحیه سمبال شی او ولایتی شوراګانو ته لاره ومومو ترڅو د ولس او حکومت فاصلي را کمې شي.

غونډه په دولسو بجو د مولوي صاحب خیرالله په دعا پای ته ورسېده.

ایران یو ځل بیا د افغانستان ...

جوړولو په خاطر د اتحاد د رامنځته کولو او په منځنی اسیا کې د نفوذ لپاره افغانستان ته پوځیان لیږلي دي.

ده دغه راز ادعا وکړه چې امریکایان له تروریزم سره مبارزه نه کوي، که یې کولای نو ولې یې په قطر کې له طالبانو سره خبرې وکړې او ولې په دې هڅه کې ده چې د طالبانو بندیان خوشي کړي.

ده له طالبانو سره د امریکا خبرې وغندلې ویې ویل چې د امریکا دې کار د طالبانو توقع لوړه کړه او ځانونه ورته له یوه زبرځواک سره برابر ښکاره شول او له همدې کبله نور خبرو ته لېوالتیا نه ښیي.

ده د امریکا او افغانستان له ستراتیژیک تړون سره د مخالفت په ترڅ کې وویل چې له افغانستان سره د امریکا په ستراتیژیک تړون کې د طالبانو یادونه نه ده شوې او یوازې له القاعده سره د مبارزې یادونه شوې چې نړیواله تروریستي شبکه ده.

د ده په باور القاعده له افغانستانه دباندې فعالیت کوي او د دې مانا دا ده چې امریکا په افغانستان کې له خپلو اډو څخه په عربستان او یمن کې د القاعده پرضد کار اخلي چې دا د افغانستان د مځکنی بشپړتیا سرغړونه ده.

حامد کرزی خواهان میانجیگری ...

بدست گرفت و یک هیات طالبان را تحت رهبری سید طیب آغا که از نزدیکان رهبر طالبان ملا محمد عمر می باشد به شهرک پولاخ در نزدیکی شهر مونشن انتقال داد تا با نماینده گان وزارت خارجه و شورای امنیت ملی امریکا ملاقات کنند.

افراد طالبان توسط طیاره جت خصوصی اداره استخبارات خارجی آلمان انتقال داده شده و در یک تعمیر مربوط به همین اداره با دو نماینده امریکا ملاقات کردند.

به نوشته شپیگل، ملاقات دو طرف و دیدار آنها بیشتر به داستان های جاسوسی که در کتاب های ناول مطالعه می شود، شباهت داشت.

آقای شتاینر حتی نماینده گان طالبان را به شهر زادگاه خود برده و آنها از یک کلیسای تاریخی هم دیدن کردند.

در مذاکرات بین طرف ها، مقامات امریکا در مورد آزادی ، محبوس طالبان از زندان گوانتامو صحبت کردند و طالبان هم در مقابل آن در باره آزادی یک سرباز امریکایی که در سال ۲۰۰۹ بدست آنها اسیر شده است، سخن گفتند.

علاوه بر آن، موافقه صورت گرفت که طالبان در قطر دفتر سیاسی خود را باز کنند که این عمل می توانست در مذاکرات بعدی صلح نقش اساسی داشته باشد، اما بخاطر عدم پیشرفت در مذاکرات این دفتر باز نشد.

تا ختم سال ۲۰۱۱ این گروپ هفت بار طور سری در مونشن و قطر ملاقات کرده و کمیته صلیب سرخ بین المللی در زندان گوانتانامو با ۵ اسیر طالبان تماس هم گرفته بود. اما در آن وقت رییس جمهور کرزی بخاطریکه حکومتش در این تماس ها دخیل نبود، اعتراضات را بر روند مذاکرات آغاز کرد و در حالی که تازه روزنه امید برای پیشرفت مشاهده می شد، این مذاکرات متوقف شدند.

در اوایل سال ۲۰۱۲ طالبان تماس ها را کاملاً قطع کردند.

برلین در باره احیای تلاش ها در این راستا تا حال چیزی نگفته است، اما شتاینر که اکنون سفیر آلمان در هندوستان می باشد در بهار سال جاری گفته بود، مانجیگری دوباره آلمان، در این مذاکرات ممکن است اما بعد از انتخابات ریاست جمهوری امریکا در ماه نومبر.

علاوه بر آن آقای شتاینر تاکید کرد که مذاکرات با طالبان تنها در صورتی موفق شده می تواند که رییس جمهور کرزی از آن همه جانبه حمایت کند.

به نوشته مجله شپیگل، تلاش های اخیر حکومت افغانستان برای تماس با طالبان به مشکلات روبرو می باشد. حکومت کابل توانست نماینده گان طالبان را قانع بسازد که در دوبی با نماینده شورای عالی صلح افغانستان ملاقات کنند. اما تلاش بعدی آن برای مذاکرات که از سوی ملل متحد هم حمایت می شد، به نتیجه نرسید. زیرا به نوشته مجله شپیگل، پاکستان جدیت و اهمیت این مذاکرات را احساس کرد و مانع سفر اعضای طالبان از این کشور به بیرون شد.

په راتلونکو ۲ میاشتو کې به...

ځینو امریکایي قومندانانو د دغو ځواکونو د ایستلو د منفي پایلو په وړاندې خبرداري ورکړي دي ځکه چې دا عسکر د هلمند په شان سیمو کې ډېره دي چې پخوا د طالبانو زورور مرکزونه بلل کېدل.

جنرال الن اسوشیتید پریس خبري اژانس ته وویل چې د سږ کال د دوبي عملیات به تر ډېره پر دې متمرکز وي چې وسله وال طالبان د کابل په شمول له ګڼ نفوسو سیمو څخه لېرې وساتل شي او افغان ځواکونه د پاکستان پولو ته نژدې ځای پر ځای شي.

ناټو او امریکایي قومندانانو پخوا هم ویلي و چې هڅه به وکړي چې په ۲۰۱۲ کال کې د کابل ختیځ ولایتونه، لکه پکتیا، خوست، پکتیکا او لوګر د حقاني له شبکې تصفیه کړي او کابل د دې شبکې له ترهګرو خوندي کړي.

خو جان الن اسوشیتید پریس خبري اژانس ته وویل چې د دوی هڅه به دا وي چې د دغو ختیځو ولایتونو د امنیتي چارو مسوولیت ژر افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

الن وویل، په داسې حال کې چې افغان امنیتي ځواکونه د خپل هیواد د امنیتي چارو مخکښ رول په غاړه اخلي، نورو کارونو ته اړتیا ده چې دا ځواکونه د پلان جوړولو او عملیاتو په برخه کې پر ځان لا ډېر اعتماد ترلاسه کړي.

جنرال الن په عین حال کې وویل چې د راتلونکي ۲۰۱۳ کال تر دسمبره پورې به د دوی ځواکونه له افغان قواوو سره څنګ په څنګ عملیات کوي خو په یاده موده کې به افغان ځواکونه په یوازې توګه عملیات پر مخ بیایي.

حاضردمه د نړیوال ایتلاف په نوي فیصده عملیاتو کې افغان ځواکونه ګډون کوي او په سلو کې د ۴۰ عملیاتو مشري د افغان امنیتي ځواکونو په غاړه وي.

ویلیم کالدویل از ادامه تحقیقات...

ختم انتخابات ماه نومبر سال ۲۰۱۰ کانگرس به تعویق بی افتد. به گفته او بعد از انتخابات او نیز تلاش نمود تا زیردستان خود را وادار بسازد موافقه کنند که ضرورتی برای چنین تحقیق وجود ندارد.

دگروال گروزا و یک تعداد دیگر از مقامات امریکایی می گویند، آنها در صدد آن هستند تا مشکلات شفاخانه محمد داود خان را که توسط ایالات متحده امریکا تمویل می گردد به کمیته فرعی بررسی و اصلاحات مجلس نمایندگان بیان کنند. این کمیته در نظر دارد تا ادعا ها را در مورد به تعویق افتیدن تحقیقات از طرف مقامات نظامی مورد بررسی قرار بدهد.

دگروال وینی شنکس (Shanks) یک سخنگوی اردوی امریکا گفت، جنرال کالدویل از این موضوع استقبال می نماید و حاضر است به هر نوع پرسش جواب بگوید و من اطمینان دارم زمانیکه همه حقایق ارایه شد و مورد بازرسی قرار گرفت، تمام ادعاها غلط ثابت خواهد شد.

به نوشته آژانس خبری رویترز، ماه گذشته جسن شفیتس (Jason Chaffetz)از حزب جمهوریخواه به لیون پنیتا وزیر دفاع نامه ای فرستاده و از وی خواست تا وزارت دفاع امریکا تحقیق نماید که آیا رهبران نظامی واقعاً در صدد آن بودند تا گزارش ها مبنی بر سوی استفاده سال ۲۰۱۰ را در مورد شفاخانه پنهان کنند و مخفی نگهدارند.

موضوع سوء استفاده در شفاخانه در سال گذشته و بعد از آن مورد توجه کانگرس امریکا قرار گرفت که روزنامه وال ستریت ژورنال گزارش هایی را در باره فساد اداری در شفاخانه سردار محمد داود خان منتشر ساخت.

پنتاگون یا وزارت دفاع امریکا مشکلات شفاخانه را تایید نمود و گفت، تحقیقات و اقدامات لازم در این مورد ادامه دارد.

دغه ړنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com